# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| | |
|---|---|
| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |




درویش وردک


۰۵ جنوری ۲۰۱۷

# دوه شپیتم مجلس(په توحید کی)

## دوهمه برخه

شیخ(رضی الله تعالی عنه) همدارنګه وفرمایل: ما داغیاروسره ناسته نده غوره کړی، که می ناسته کړی نو دهغوی سره می کړی چی دحق اوتوافق اهل و. داولیاءالله صفات دادی چی که له چاسره کښینی، اګرکه یهودی اویانصرانی وی، داسی په هغوی کی اغیزه کوی، چی په زړونو کی مهراوحب پیداکیږی، اوکه مسلمان وی، ایمان اویقان یی قوی کیږی، اودایه دی دلیل دی چی هرکله زړه سالم وی، نظرهم درست کیږی. زړه چی کله له آلایش څخه پاک شو دقرب مقام ته رسیږی، اودقرب اومعرفت په سترګو ګوری، اونظریی دخدای عزّوجلّ لخوا دتائید وړګرځی. قرب په زړه کی دوریځی پشان دی، اونظردبرق(برېښنا) اوپند اوموعظه دباران په مثل دی. دپاک زړه ژبه ترجمانه ده، ژبه په دی حال کی دهغه قلم په څیرده چی دمعرفت دمرکب پوسیله لیکل کوی، اوادازلی علم له دریابه مرسته اخلی.  ددی شخص وینا دمتحرک برق په څیر له زړه څخه چی دمبدی لخوا تقویت کیږی، ساطح کیږی. هرچا چی دامرپه امتثال اوله منهیاتوپه ډډه کولو اورسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) درضا ترلاسه کولو لپاره توفیق ترلاسه کړ، دغه مقامات ورته متحقق کیږی، علم اوقرب اوصدق یی ډیریږی، چی پایله یی دصالحه اعمالو کسب کول دی.

صالح عمل هغه دی چی دحق درضا لپاره ترسره شی، اوبل څوک پکی شریک نشی، صالح عمل به دی دمراد جادی ته رهبری کړی، ددی لاری لارویان کیڼ اوښی خوانه پیژنی، اوپه زړه اوباطن سره، اوپرته ددینوی علایقو اونورو علایقوته په کتودخدای لوری ته لاره وهی، همداسی چی موسی (علیه السلام) وویل: (وَعَجِلْتُ اِلَيْکَ رَبِّ لِتَرْضی)-«ستاخواته په منده راغلم ترڅو راضی اوسی. سوره طه آیه ۸۴».

هرڅوک چی دوجه الله په طلب کی وی، داسی حالت مومی لکه چی پاک خدای دموسی علیه السلام په هکله ویلی: (وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ)-«له مخکی مو، دپی ورکوونکو پی پرده حرامی کړی وی. سوره قصص آیه. ۱۲».

صادق مومن درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) له اعمالو او اقوالو څخه متابعت کوی، اودغلام اوچاکرپه څیر دده په خدمت کی دی، اوڅرنګه چی یی په دی خدمت مداومت درلود، نودخپل معلم اواستاد لخوابه دقرب باب ته ورسیږی، اوورته به وویل شی: ای محمّده(صلی الله علیه وسلم) ستاسره څوک دی؟ ای دحق استاذیه،اوای دنړی معلمه اودلیله څوک له ځان سره لری؟ ځواب به ورکړل شی:  خپله پوهیږی، هغه کس دی چی خپله دی ددی درګاه دخدمت لپاره روزلی دی. بیا هغی ته وایی: داته اوداستا خدای. همداسی چی جبریئل علیه السلام هغه خپله په آسمانی سفرکی

راهنمایی کړ. اوخدای ته نیږدی شو، اوویل: داته اوداستا خدای. درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) متابعت دغسی مومن بنده عزّوجلّ خدای ته نیږدی کوی.

(ای دخدای بنده) صالح عمل وکړه اودخدای دقرب مقام ترلاسه کړه.

(ای دخدای بنده) خپل حرص اوهیلی کمی کړه، اوفرض لمنځونه اداءکړه. نه ښایی چی مومن دشپی ویده شی او وصیت نامه تربالښت لاندی نه وی، که بل سبا بیا دخدای په امر راوېښ کړای شوی، مبارک دی، اوپه غیرصورت کی زن اوفرزن به له وصیت څخه ګټه پورته کړی، اودرود به پری ووایی.

داهل اوعیال ترمنځ دی باید احوال اواعمال باید دهغی کس په شان وی چی دمخه بنی لپاره راغلی وی، همدای باید دخپلوانو اودوستانو ترمنځ اوسی، اوتل دی باید زړه ددی سرای سره مخه ښی ته برابراوچمتو وی. څرنګه دهغه کس چی دشتون اونشتون اختیاریی دبل سره وی، داسی نه وی؟

دګوتوپه شمارکسان دخپل حال اووبال اواحیانا دخپل مرګ څخه خبرلری، دوی دغمجنوزړو خاوندان دی، اودغه مسایل لکه چی څرنګه چی سترګی لمروینی داسی مشاهده کوی، ولی ژبی یی هم له دی مقولو څخه مطمئنه نفس ته خبرورکوی، اونفس هم هغه پېژنی، دغه مقامات ټول دمجاهدت اودکړاونو په زغملوسره ترلاسه کیږی، هرڅوک چی دغی مقام ته ورسید،هغه دحق عزّوجلّ نائب دی دځمکی پرمخ، اوپوه شه چی داهغه موهبت دی چی درک یی دبشری عقل څخه اوله ټول مخلوق پورته دی، دعظمت له دریابه یوڅاڅکی اودحق دمعرفت دلمرڅخه یو څراغ دی.

لویه خدایه، ددی اسرارو له بیان څخه ستاڅخه ښښنه غواړم، ته پوه یی چی زه مغلوب یم. ویل شوی: خویشتن داراوسه اوعذرمه غواړه، ولی کله چی دی منبرته پورته کیږم، ځان اونورهیروم، نورمی په زړه کی څوک نه پاتیږی، چی له هغی ښښنه وغواړم،مګرخدای پاک. کله چی له دوی(خلکو) تښتم، بیا ځان ددوی ترمنځ مومم، کله پریکړه کوم چی هره شپه په بل ځای کی تیره کړم، له یوه ښاره بل ښارته لاړشم، له یوه کلی نه بل کلی ته ، پټ اوپه غریبی کی ژوند وکړم، ترڅوچی می دمرګ وخت راورسیږی، دازما اراده ده، ولی دخدای اراده بل څه ده، هغه می دهغوخلکو ترمنځ اچوی چی تری تیښته کوم.

دغه زړه چی کله سالم اودرست اوپایدارشو، دحق په باب به ګام کښیږدی، دتکوین په صحرا اودروکی به اوسی، دمعرفت په دریاب کی به لامبووهی، دخدای پاک په اراده اوافعالوکی به فانی شی، اوله وجود څخه به یی یولړاندک پاته شی.له تاسو څخه داسی کسان شته چی پدی باورلری، ولی ډیری یی تکذیبوی. ایمان پدی امر اوعمل کړل پری دکارنهایت دی. پرته له منافقینو اودروغجنوکسانو چی دهوی اوهوس په مرکب سپاره دی، دصالحینو له احواله انکار نکوی، دغه باورپه صحیح اعتقاد اوصحیح عمل پربنسټ ولاړ دی..

هرچاچی په ظاهری احکامو عمل وکړ، معرفت الله به یی نصیب شی، اوپه باطنی اعمالو چی دعبد اوخدای ترمنځ رابطه ده ،بریالی شی. پدی حال کی غړی اوجوارح آرامش لری، ولی زړه تل داضطراب په حالت کی دی، ظاهری سترګی په خوب ځی،ولی دباطن سترګی تل وینبی دی،پداسی حال کی چی ویده دی، زړه یی ذاکردی. له یوه له بزرګانوڅخه نقل کوی،چی تسبیح یی په لاس کی وی اوپه خوب لاړ،کله چی له خوبه راویښ شو، ولیدل چی تسبیح یی په لاس کی اوړی اودخدای ذکرکوی،ترڅودباطن اعمال ترسره کړی (وَلَهُمْ اَعْمالٌ مِنْ دُونِ ذالِکَ هُمْ عامِلُونَ) دوی لره پرته له ظاهری اعمالو داسی اعمال ترسره کوی. ظاهری اعمال دغړواوجوارحو اعمال دی، اوباطنی اعمال خواصولره دی چی دزړه اوباطن په وسیله ترسره کیږی، باطن یی له خدای سره دی، اوتل په خوف کی دی، خوف یی دحال دتغییراودمقام له نزول څخه دی،ویریږی چی دزړه په مسخ ګرفتارنشی،اودالمراوسپوږمی چی پری راختلی ونه لویږی،اوددوی دلغزش سبب وګرځی، نوځکه تل دقرب ددرګاه په حلقه پوری ځوړند دی اولاسونه یی دحق درحمت په

لمن لګولی دی اووایی: لویه خدایه ! منګولی موستادرحمت په لمنه لګولی، مونږ مه خواروه،اوظمنان موتحقق کړه، څکه ته په هرکارچی اراده وکړی ترسره کیږی اوکه ووایی : اوسه، فورا کیږی.
(ای قومه) په وینا اوعمل کی داولیاءالله پیروی وکړی، ددوی خادم واوسی، اودوی ته ورنیږدی شی، هغه څه چی دخدمت دوی ته ترسره کوی، ددوی سره محفوظ دی، اوسبا به بیا تاسوته دروګرځول شی.
تاسو تل له خدایه درزق دپراخی غوښتنه کوی، پداسی حال کی چی رزق مقسوم شوی اوکمی اوډیری نلری،اوتاسو پدی عمل یوازی دخشم وړ ګرځی، کوم شیان غواړی چی ستاسو برخه نده. څومره حریصانه ددنیا په طلب کی یاست، پداسی حال کی چی یوازی په خپل معین قسمت باندی نائل کیږی. اولیاءالله دطاعت په مقام کی دی اوپه ډارکی، ولی تاسو دمعصیت په ګام ټینګ یاست اوزړونه مو آرام! داغولول دی، پوه اوسی چی فریب ونخوری. رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (**اِسْتَعِيْنُوا عَلى كُلِّ صَنْعَةٍ بِصَالِحِ اَهْلِها**)-«په هرکارکی له اهل څخه یی مرسته وغواړی».
عبادت هغه هنردی چی صالحان پری پوه دی، هغوی چی په اعمالو اوافعالوکی یی صدق اوصفا شتون ولری، هغه کسان چی دمعرفت مقام ته په رسیدو له خلکو اوپه غیرولـه تکیی څخه تښتیدلی، اوله زن اوفرزند اوشتوسره یی پریکړون کړی، اوله عزّوجلّ خدای سره وصل شوی، اوخپل ټول شتون په دی لاره کی له لاسه ورکړی. اوپدی حال اوسی ترڅویی زړونه بشپړ رشد ته ورسیږی، او وزرونه یی څواکمن شی، اوپه هغوی سره دقرب مقام ته الوتنه وکړی، اوهغه ځای ته ورسیږی چی عزّوجلّ حق فرمایلی: (**وَاِنَّهُمْ عِنْدَنَا لَمِنَ الْمُصْطَفَيْنَ الْاَخْيارِ**)-«دوی زمونږ پروړاندی نیکوکاره غوره شوی کسان دی. سوره ص آیه ۴۸».
هرکله که ایمان په یقین اویقین په معرفت اومعرفت په علم تبدیل شو، الهی معیاراومحک به وګرځی، داغنیاو اوشتمنوڅخه به یی اخلی اوفقیرانو اومسکینانو ته به یی ورکوی،دداسی مطبخ دخاوند په څیربه شی چی دخلکو ارزاق دزړه اوباطن په سترګو دوی ته ویشی، ولی ته ای منافقه! تالره هیڅ کرامت نشته، ترڅو چی زیاروباسی اودی مقام ته ورسیږی، وای پرتا! ته په الهی احکامودعامل اووارع انسان په لاسونو نه یی تربیه شوی،وای پرتا! پرته له کوم څه په لاس کی(صالح عمل) دبزرګواری انتظارلری، کله چی پوهیږی چی ددنیا مال( ناچیزه اوکم ارزښته) پرته له رنځه اوکړاوه نه ترلاسه کیږی، پس څرنګه دخدای معنوی مقاماتوته چی عین ارزښت دی، پرته له زحمته او زیاره لاس ته راوړی؟ ته چیرته یی اوهغوی چی پاک خدای یی په قرآن کی توصیف کړی چیرته؟ فرمایی : (**كانُو قَلِيْلاً مِنَ الَّيلِ ما يَهْجَعُوْنَ وَبِالْاَسَحارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ**)--« دوی دشپی لږبرخه بیدیږی، اوپه سهارکی دغفران غوښتنه کوی، سوره ذاریات آیه ۱۷».
اولیاءالله چی دزړو علاقه یی له خدای سره بشپړه ده ، په خوب کی داسی شیان ګوری، چی په بیداری کی یی نه وینی، اوزړه اوباطن یی په خوب کی ترویښتوب څخه ډیربیداره دی. نفس یی په لوږه اوتنده اوله غوښتنو سره یی په مخالفت، رام اومطیع کړی، دعباداتوډولونه( فرض اونوافل) په ځای کوی ترڅو جنت ورته مسلم شی.
هرڅوک چی له خپل مطلوبه خبروی اوځانګړی موخه ولری، نومطلوبه درسیدوپه لاره کی ورته هرډول رنځ اوزحمت تحمل کول ورته آسانه دی، لذامومن تل دطاعت اوبندګی رنځ ځانته هواروی ترڅودمحبوب اومطلوب لقاءته ورسیږی.
وای پرتا! حیرانی ده! ته زماسره ددوستی مدعی یی، ولی خپل شته له ماپټوی، پس په خپله ادعا کی کاذب یی، رینښتینی مرید دمراد پروړاندی دکمیس، عمامه اومال اودارایی درلودونکی ندی، بلکه دمراد له سفری څخه په هغه څه چی دستورومومی ګټه پورته کوی، هغه دمراد په وجود کی فانی دی، امراونهیی یی اطاعت کوی، څکه پوهیږی هغه څه ورته مرادفرمان ورکوی، په حقیقت کی دخدای اورسول فرمان دی، اودده ددین اودنیا دمصالحوپه لاره کی ګام پورته

کوی.(رینښتینی شیخ پرته له کتابه اودرسول اکرم(صلی ﷲ علیه وسلم) له سنتوپه بل څه دستورنه ورکوی).ته که دی مراد متهموی، نوتری لیری اوسه،ځکه کله چی ناروغ دطبیب په حذاقت باورونلری،مسلما درمان به نشی.

هرکله که له دنیا څخه دیوکس زهد اولیری والی متحقق شو، خلک به ده خواته مخه کړی اولیدوته به یی لیواله شی، اودکلام له برکته به یی ګټه پورته کړی.

هرکله که دی خلک دخدای په علم سره وپیژندل، ددوی ټول صفات به ستا له سترګوپټ شی، ټول انس اوجن اوفرشتی به دی په نظرمعدوم وګرځی، اوزړه به دی په بل ذکراوصفت باندی بوخت شی، باطن به دی دوجودظاهری قشرلیری کړی. پوست اوظاهری قشرهغه دی چی بنی آدم خپل ظاهر پکی ګوری، اودبشرپرتن یوه جامه ده، دنفس په امر. مګرپه واقعیت کی انسان دالهی امرله عالم څخه دی.کله چی ربانی علم په یوه زړه نازل شو، هغه علم دزړه اوباطن لباس ګرځی. (همداده چی عارفان ظاهری وجود ته دومره اعتبارنه ورکوی، اوهغه څه چی یی پروړاندی معزاواصل دی، هماغه زړه اوباطن دی).

هغه څّه چی رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) راوړی، په زړه هغه ومنی، اوهغه کتاب اوسنت دی. هرچاچی ددین له دی دوو رکنونو څخه سرغړونه وکړه، کافراوزندیق دی، په قیامت کی یی ځای اور، اوپه دنیا کی دالهی قهراونفرت وړدی.

**«وآتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار».آمین!**

نوربیا....